(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځيـزونـه دلتـه ټـول ، پـه دنيـا كښي چي پيدا دي
دا الـلّـــه دي دا الـلّـــه دي، دا الـلّـــه دي دا الـلّـــه دي
د ذرّے ذرّے مـالك دے ، د هريـو حصے مالك دے
د هريـو چينـے مالك دے ، د هريو قصے مالك دے
صفتونـه داد چـا دي ، چـي راغلـي ښـهٔ صفا دي ؟
دا الـلّـــه دي دا الـلّـــه دي، دا الـلّـــه دي دا الـلّـــه دي
ښـكلـي ښـكلـي اسمـانونـه ، د مولـىٰ دي جنتونـه
د مـولـىٰ دي ښـهٔ نـومـونـه ، هـر طرف تـه ټول حمدونه
ټـول ځيـزونـه دجهان ، دلتـه كښي چي په هر خوا دي
دا الـلّـــه دي دا الـلّـــه دي، دا الـلّـــه دي دا الـلّـــه دي
زهٔ احمـد ئـي صفت ليكم ، حق دے دا حقيقت ليكم
زهٔ چـي نـور دعـزت ليـكـم ، هـرطـرف تـه رحمت ليكم
دا ځيـزونـه ټـول د چـا دي ، څـهٔ چي دلتـه پـه دنيـا دي
دا الـلّـــه دي دا الـلّـــه دي، دا الـلّـــه دي دا الـلّـــه دي

## حمد باري تعالىٰ ﴿ 38 ﴾

ټـــول صـــفتـــونـــه دا الـــلّـــه دي دلتـــه
دا نـــعـــمتـــونـــه دا الـــلّـــه دي دلتـــه
ربَ ګـــرځـــولـــي رنګ پـــه رنګ خـلـق دي
څـوك دي بـي نـنـګـه څـوك د نـنګ خـلـق دي
دا تـــقسيـــمـــونـــه دا الـــلّـــه دي دلتـــه

